د افغانستان اسلامي جمهوریت
مالیې وزارت

# شتمنی

د مالیې وزارت اونیزه خپرونه

زموږ مالیه — زموږ هیواد — زموږ راتلونکی

شماره یک صد و چهل چهارم | یک شنبه | 19 حوت | سال ۱۳۹۷ | سال تاسیس : ۱۳۹۴ هجری


## عناوین مهم

له خصوصي سکتور سره د همغږۍ ملي کنفرانس جوړ، د مالیې وزارت او خصوصي سکتور تر منځ د همغږۍ هوکړه لیک لاسلیک شو



جلسهٔ اعضای صندوق وجهی بازسازی افغانستان به منظور ایجاد مؤثریت هرچه بیشتر در تطبیق پروژه های انکشافی دایر گردید



بیست و هشتمین جلسهٔ شورای عالی اقتصادی دایر گردید



مالیې وزارت د ښځو د پیوستون نړیواله ورځ ونمانځله



# له خصوصي سکتور سره د همغږۍ ملي کنفرانس جوړ، د مالیې وزارت او خصوصي سکتور تر منځ د همغږۍ هوکړه لیک لاسلیک شو




له خصوصي سکتور سره د همغږۍ ملي کنفرانس دروان لمرزکال ۱۳۹۷ د کب میاشتې په ۱۳ مه نېټه د مالیې وزارت سرپرست او د زیربناء په چارو کې د ولسمشرۍ عالي مقام ستر سلاکار ښاغلي ډاکټر محمد همایون قیومي په مشرۍ د سکتوري وزارتونو او ادارو د مسؤلینو، د خصوصي سکتور استازو، ملي سوداګرو، د افغانستان د سوداګرۍ او صنایع خونو استازو او اړوندو ادارو په ګډون په انترکانتیننټال هوټل کې جوړ شو.



د مالیې وزارت سرپرست ښاغلي ډاکټر محمد همایون قیومي د یاد کنفرانس په پرانیسته وینا کې د ګډونوالو له راتګ څخه د منني تر څنګ وویل: "موږ هڅه کوو چې د دې کنفرانس له لارې د خصوصي سکتور ستونزو ته رسیدګي وکړو او بله خوا هغه ستونزې چې د سوداګرۍ او ترانسپورټي قوانینو او مقرراتو د پلي کیدو په وړاندې شته د خصوصي سکتور له استازو سره د نږدې همغږۍ له لارې حل کړو." نوموړي زیاته کړه "د دې اقدام اصلي موخه د افغان سوداګرو او صنعت کارانو لپاره د اسانتیاوو برابرول، د معیاري خدمتونو وړاندې کول، د ستونزو حل، په پروسو کې روڼتیا، د قانون او ګمرکي تعرفې پلي کیدل او د عوایدو د نه ورکولو څخه مخنیوی دی.


د امتیاز خاوند : شمروز خان مسجدی د عامه اړیکو ریس او ویاند
مسؤول مدیر : عبادالله درمان
مرستیال : فردین معرفتی
کتنپلاوی: داود نظری،محمد ابراهیم ګران، محمود عبادی او سلیمان نوری
تخنیکي همکار : فرید نوښت،عتیق الله عتیق
دیزاینر :
بربنالیک : tamas@mof.gov.af
اړیکشمیرې: ۰۲۰۲۱۰۶۴۰۹

ښاغلي قیومي زیاته کړه : له خصوصي سکټور سره همغږۍ د دې سبب کیږي چې تعرفه او ګمرکي اصول له ملي سوداګرو او نورو اړوندو برخو سره په مشورې په خصوصي تشبثاتو (کار پنځوونکو) کې په ښه او معیاري توګه پلي کړو او د ستونزو د له منځه وړلو او د سوداګریزو فعالیتونو د ښه والي لپاره اغیزمنې لارې چارې عملي کړو. بالمقابل له خصوصي سکټور څخه زموږ غوښتنه دا ده چې د فیصدي او ټاکل شویو کودونو سره سم د ګمرکي تعرفو په پلي کیدو، د وزنونو مقررې له مخې د محمولو د لیږد، د غلطو اموالو ښودلو او د قاچاق په مخنیوي همدا شان د ګمرکي اصیلو اسنادو په وړاندې کولو، د جنس بدلون څخه د مخنیوي او په ټاکل شویو ځایونو کې د محمولو پلیټ په نصبولو کې له مالیې وزارت سره لازمه همکاري وکړي.



د ټولګټو وزارت د ترانسپورټي زیربناوو د ساتنې او مراقبت معین ښاغلي انجینر عبدالرحمن صلاحي وویل: د ټولګټو وزارت د صادراتو د ودې لپاره د ځکمني او هوایي ترانسپورټ په برخه کې آسانتیاوو ته ژمن دی او له خصوصي سکټور څخه یې غوښتنه وکړه چې په عامه لارو کې د لوړ تناژ او د محمولو د لوړ بار په مخنیوي کې له یاد وزارت سره همکاري وکړي.

د افغانستان د سوداګرۍ او صنایع خونې د مدیره پلاوي مرستیال ښاغلي خانجان الکوزي، د صنایع او کانونو خونې رئیس ښاغلي شیرباز کمین زاده او د ښځو سوداګرۍ خونې رئیسې اغلی منیژه وافق د مالیې وزارت د همغږۍ له پروسې څخه د ملاتړ تر څنګ د افغانستان د سوداګرو او صنعت کارانو ستونزې بیان کړې او په دې تړاو یې د حکومت د لا پاملرنې غوښتنه وکړه.

د کنفرانس په پای کې د مالیې وزارت او خصوصي سکټور تر منځ د همغږۍ هوکړه لیک هم لاسلیک شو.

# جلسهٔ اعضای صندوق وجهی بازسازی افغانستان به منظور ایجاد مؤثریت هرچه بیشتر در تطبیق پروژه های انکشافی دایر گردید



جلسهٔ اعضای تمویل کننده صندوق وجهی بازسازی افغانستان به تاریخ ۱۵ حوت ۱۳۹۷ با اشتراک محترم داکتر محترم داکتر محمد همایون قیومی، سرپرست وزارت مالیه و مشاور ارشد مقام عالی ریاست جمهوری در امور زیر بناء، سرپرست وزارت انرژی و آب، معینان وزارتخانه های ذیدخل، رئیس بانک جهانی برای افغانستان، نمایندهٔ خاص اتحادیه اروپا برای افغانستان، سفراء و نماینده گان کشورهای کمک کنندهٔ صندوق وجهی باز سازی افغانستان (ARTF) به منظور ایجاد مؤثریت هرچه بیشتر در تطبیق پروژه های انکشافی که از طریق صندوق متذکره تمویل می گردد، دایر گردید.

در این جلسه در رابطه به دورنمای اقتصادی افغانستان، پروژه های انکشافی در حال تطبیق که از طریق صندوق متذکره تمویل می گردد، تطبیق اجندای انکشافی حکومت و نقش پروگرام های صندوق وجهی بازسازی افغانستان در تطبیق آجندای انکشافی حکومت، مشکلات و چالش های فرا راه پروژه های متذکره و پروژه های پلان شده برای آینده بحث و تبادل نظر صورت گرفت.



همچنان طی جلسه محترمه ناهید سرابی، معین پالیسی وزارت مالیه و محترم شمس الحق نور، رئیس پالیسی اقتصاد بزرگ این وزارت طی پریزنتیشن های جداگانه در مورد سرمایه گذاری حکومت برای رسیدن به خودکفایی، سکتور های دارای اولویت برای سرمایه گذاری، ثبات مالی، پروژه های وزارت زارعت، مزایای مالی و اقتصادی این پروژه ها، انتقال و توزیع برق؛ سرمایه گذاری در مسکن و دورنمای اقتصاد افغانستان به اشتراک کننده گان معلومات ارائه نمودند.

اعضای صندوق وجهی بازسازی افغانستان از برگزاری چنین جلساتی که باعث افزایش شفافیت، مؤثریت و مثمریت تطبیق پروژه های انکشافی میگردد، استقبال نموده و یکبار دیگر بر تداوم همکاری های شان با افغانستان تاکید ورزیدند.

# بیست و هشتمین جلسۀ شورای عالی اقتصادی دایر گردید





بیست و هشتمین جلسه شورای عالی اقتصادي بتاریخ ۱۴ حوت سال ۱۳۹۷ تحت ریاست داکتر محمد همایون قیومی، سرپرست وزارت مالیه و مشاور ارشد مقام عالی ریاست جمهوری در امور زیربناء و مولاصلات در ارگ ریاست جمهوری ، برگذار گردید.

اعضای شورای عالی اقتصادی بعد از بحث های همه جانبه روی موضوعات مندرج اجندا، در جلسه طرزالعمل اعطای جواز معدن کاری به مقیاس کوچک را تصویب؛ پروژه برق رسانی و انکشاف تولید برق از منابع داخلی در ولایت بد خشان را در پرنسب تصویب و تصمیم گیری روی طرح ایجاد فابریکۀ لبنیات به ظرفیت ۳۰ متریک ټُن به جلسه آینده محول گردید.

# د ماليې وزارت د ښځو د پیوستون نړیواله ورځ ونمانځله



ماليې وزارت د روان ۱۳۹۷ لمریز کال د کب میاشتې په ۱۸ مه نېټه د یو لړ مراسمو په ترڅ کې د مارچ اتمه د ښځو د پیوستون نړیواله ورځ د دې وزارت په خيبر هال کې ونمانځله.
په دې مراسمو کې چې د ماليې وزارت سرپرست او د زیربناء په چارو کې د ولسمشرۍ عالي مقام ستر سلاکار ښاغلي ډاکټر محمد همایون قیومي، د ماليې وزارت د پالیسۍ مرستیالې اغلی ناهید سرابي، د عوایدو عمومي رئیسې اغلی امنه احمدي، د ماليې وزارت د اداري چارو عمومي رئیس ښاغلي محمد خان دانشجو او د یاد وزارت یو شمېر نورو رئیسانو او کارکوونکو ګډون کړی وو.
د ماليې وزارت سرپرست ښاغلي ډاکټر محمد همایون قیومي د مارچ اتمه د ښځو د پیوستون نړیواله ورځ یې د هیواد او نړۍ ټولو ښځو په ځانګړې توګه د ماليې وزارت ښځینه کارکوونکو ته مبارکي وویله او زیاته یې کړه: د ماليې وزارت د رهبرۍ او مدیریت په کچه د ښځو فعاله رول د دې ښودنه کوي چې د دې وزارت رهبرۍ د ښځو د وړتیا لوړو او ودې څخه په جدیت سره ملاتړ کوي.
نوموړي زیاته کړه : د معینیت له کچې نیولې بیا د ماليې وزارت تر ټیټې کچې د ۷۱۵ تنه ښځینه کارکوونکو ګمارنه، د تېرو کلونو په پرته زموږ لپاره د پام وړ او هیله ښنونکی رقم دی.
ښاغلي قیومي وویل: له دې ټولو پرمختګونو سره سره د ښځو څخه زموږ ملاتړ بسنده نه کوي او موږ قوي هوډ لرو چې له یوې خوا په مدیریتي او تخنیکي برخو کې اوسنۍ فیصدي لوړه کړو او له بلې خوا د ښځو د پیاوړتیا لپاره د اغیزمنو پروګرامونو په لاره اچولو سره د دوی رول لا پیاوړی کړو.
د ماليې وزارت د پالیسۍ مرستیالې اغلی ناهید سرابي، د عوایدو عمومي رئیسې اغلی امنه احمدي، د یاد وزارت د اداري چارو عمومي رئیس ښاغلي محمد خان دانشجو، د کابل ولایت مستوفي ټولو ښځو ته د دې ورځې د مبارکۍ ویلو تر څنګ د ماليې وزارت په ټولو برخو کې د ښځو د رول په ارزښت او د ښځو د وړتیا په لوړولو ګډونوالو ته معلومات ورکړل.





همداشان په دې غونډه کې د ماليې وزارت بې وزلو ښځو څخه د ملاتړ په موخه وجهي صندوق په رسمي ډول پرانېستل شو او د غونډې په پای کې هغو ښځینه کارکوونکو ته چې په اړوندو چارو کې له ځانه وړتیا ښودلې وه ستاینلیکونه او د ماليې وزارت نورو ښځینه کارکوونکو ته د دې وزارت لخوا ډالۍ ورکړل شوې.

# جلسه بررسی پروژه های انکشافی که از طریق بانک جهانی تمویل میگردد، در وزارت مالیه دایر گردید



جلسه بررسی پروژه های انکشافی که از طریق بانک جهانی تمویل میگردد، به تاریخ ۱۲ حوت ۱۳۹۷ تحت ریاست محترم داکتر محمد همایون قیومی، سرپرست وزارت مالیه و مشاور ارشد مقام عالی ریاست جمهوری در امور زیربناء با اشتراک وزراء مخابرات و احیاء و انکشاف دهات، سرپرست های وزارتخانه های آب و برق، تحصیلات عالی، معین وزارت معارف، رئیس تعلیمات تخنیکی، رئیس ادارهٔ خط آهن، نماینده گان ارگان های مختلف شاروالی کابل، کمیسیون اصلاحات اداری، وزارت شهر سازی و اراضی، وزارت صحت عامه و سائر اداراتیکه از بانک جهانی برای پروژه های انکشافی کمک دریافت می کند، دایر گردید.

در این جلسه وزارتخانه ها و ادارات مستقل روی مشکلات که فرا راه تطبیق پروژه های انکشافی شان وجود داشت بحث و تبادل نظر صورت نمودند و در مورد چگونگی راه حل پروژه ها و افزایش مؤثریت پروژه ها تاکید صورت گرفت.

محترم قیومی، سرپرست وزارت مالیه گفت که وزارتخانه ها و ادارات مستقل بعد از این کمک های دریافت شده را در پروژه های به مصرف برسانند که تولیدی بوده و برای حکومت عواید داشته باشد. وی افزود با تطبیق این پروژه ها در ساحات درآمد زا می توانیم به خود کفائی تدریجی اقتصادی برسیم و نیز میتوانیم به رشد پایدار اقتصادی برسیم.

همچنان در اخیر جلسه فیصله بعمل آمد پروژه های انکشافی که از طریق بانک جهانی تمویل می گردد، باید بشکل ربعوار بررسی گردند تا به روند پیشرفت پروژه سرعت بخشیده شود.


# د انرژۍ او کانونو په سکټورونو کې د چین هیواد پانګونه د مالیې وزارت سرپرست او په افغانستان کې د چین ولسي جمهوریت سفیر د خبرو اصلي محور



ي عالي

مقام ستر سلاکار ښاغلي ډاکټر محمد همایون قیومي، د روان ۱۳۹۷ لمریز کال د کب میاشتې په ۱۲ مه نېټه د افغانستان لپاره د چین ولسي جمهوریت له سفیر ښاغلي لیوجین سونګ سره وکتل.
په دې کتنه کې دواړو لوریو د افغانستان او چین تر منځ د اقتصادي او سوداګریزو اړیکو په لا ټینګښت او پراختیا، د چین هیواد له لوري په بامیانو ولایت کې د ۱۰۰ میګاواټه په ظرفیت سره د سولري پارک په جوړیدو، د کانونو په سکټور کې د یاد هیواد په پانګونې، د افغانستان او شمال او لویدیز ولایتونو کې د بادي بریښنا د تولید استیشن په برخه کې د چین هیواد په پانګونې، د اریانا افغان هوایي شرکت له لخوا د دواړو هیوادونو تر منځ د هوایي دهلیز له لارې د سوداګریزو اموالو په لیږد، په هیواد کې د طبیعي پیښو څخه د مخنیوي په موخه د هشدار سیستم په جوړیدو او د واخان ځمکني دهلیز پروژې په پلي کیدو کې د چین هیواد په همکارۍ، د افغانستان د ګمرکونو د سکنرونو په ترمیم او یو شمیر نورو مسایلو بحث او د نظرونو تبادله وکړه.

# رئیس عمومی خزینهٔ تقاعد وزارت مالیه معرفی گردید



محترم محمد عمر درانی که به پیشنهاد وزارت مالیه و منظوری مقام عالی ریاست جمهوری به حیث رئیس عمومی خزینهٔ تقاعد وزارت مالیه تقرر حاصل نموده است، به تاریخ ۱۳ حوت ۱۳۹۷ توسط محترم زاهد همدرد، معین مالی وزارت مالیه رسماً معرفی گردید.

در این مراسم که شماری از رؤسا و کارمندان وزارت مالیه اشتراک داشتند، محترم همدرد، معین مالی وزارت مالیه ضمن تبریکی به رئیس جدید التقرر برای ایشان در تمام امور محوله آرزوی مؤفقیت نموده و از ادارات مربوطه درخواست نمود تا با رئیس جدید این اداره همکاری همه جانبه نمایند.

معین مالی وزارت مالیه از پلان این وزارت بخاطر تطبیق اصلاحات فراگیر در ریاست عمومی خزینهٔ تقاعد خبر داده گفت:" تطبیق اصلاحات در این ریاست یکی از اولویت های رهبری وزارت مالیه است، در این راستا ما با ارگان های داخلی و بین المللی از نزدیک همکاری می نماییم.

محترم دارانی از اعتماد رهبری حکومت و وزارت مالیه تشکری نموده و وعده سپرد تا جهت پیشبرد هرچهٔ بهتر امور با تمام توان سعی خواهد نمود، ایشان دارای تحصیلات عالی به سطح ماستری و تجارب زیاد در ادارات دولتی برخوردار می باشند.



قابل تذکر است که ریاست عمومی خزینهٔ تقاعد طی حکم مقام عالی ریاست جمهوری از وزارت کار و امور اجتماعی به وزارت مالیه انتقال یافته است.